**سعوديان په حج کې ځان ښودنه کوي، په داسې حال کې چې په يمن کې خپل جنايتونه پټوي**



**خبر:**

بي بي سي د اگست پر ۲۵مه راپور خپور کړ، چې د ملگرو متلونو لوړ پوړو چارواکو يو ځل بيا په يمن کې د سعودي په مشرۍ د اييتلاف له لوري شوی هوايي برید وغنده، چې له امله يې لږ تر لږه ۲۲ ماشومان او څلور مېرمنې وژل شوي.

د پنجشنبې په ورځ د دغه برید قربانیان د جنگ له وېرې د حديده ساحلي ښار په سوېل کې د الدريهمې له سيمې د تېښتې په حال کې و، چې د دوی گاډی په نښه شو.

د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د چارو د مشر، مارک لوکوک له خولې په همدې ورځ په يو بل هوايي بريد کې څلور نور ماشومان هم و وژل شول.

دا پېښه داسې وخت کې رامنځ ته کېږي، چې څو اونۍ مخکې تر څلوېښت زيات ماشومان په بل بريد کې وژل شوي وو.

د سعودي په مشرۍ اييتلاف، چې د يمن له دولت سره د حوثي ياغيانو پر وړاندې د جگړې ملاتړ کوي، د ورستيو وژنو په اړه څه نه دي ويلي.

په همدې ورځ بي بي سي راپور خپور کړ، چې د بشري حقونو د څار بنسټ په وينا په يمن کې د سعودي په مشرۍ اييتلاف چې د حوثي ياغيانو پر وړاندې جنگېږي، پاتې راغلی چې هلته په سمه توگه د جنگي جرمونو تورونه وڅېړي.

د بشري حقونو د څار بنسټ غړې سارا لیاه واټسن په وینا: «څېړونکو پرته له دې چې جنګي جرمونه پټ کړي، نور څه نه دي کړي».

د دې په وینا د ایتلاف اړوند څېړونکو دنده چې د پېښو د څېړنې د ګډ ټیم (JIAT) په نامه مشهوره دی، له نړیوالو معیارونو څخه ډېر ټیټ او هیڅ د باور وړ نه دی.

د دې په وینا د پېښو د څېړنې د ګډ ټیم (JIAT) د څېړنو ډېری پایلې د ایتلاف کړنې له قانون سره سمې بولي او یا هم ایتلاف د شوي برید مسول نه ګڼي او یا هم شوی برید د ایتلاف له لورې یو غیر عمدي خطا بولي.

د بشري حقونو د څار بنسټ د منځني ختیځ مشر هغو دولتونو ته چې سعودي عربستان ته وسلې برابروي خبرداری ورکړ، چې دا «دروغجنې څېړنې» دوی له دې نه شي ژغورلای چې دوی د یمن په پېښو کې ونډه نه لري.

د یاغیانو پر وړاندې ایتلاف د امریکا، برتانیې او فرانسې له لورې لوجستیکي او استخباراتي ملاتړ له ځان سره لري.

د ښوونځۍ پر بس تر وژونکي برید وروسته سي این این راپور خپور کړ، چې په دې برید کې کارول شوی بم د امریکا له لورې چمتو شوی و او بیا د کانګریس ځینو غړو په یمن کې د امریکا د رول په اړه پوښتنې را پورته کړې.

په همدې ترڅ کې د بریتانیې د بهرنیو چارو وزیر جېرمي هنټ د انګلستان او سعودي تر منځ له اړیکو څخه دفاع وکړه او دې اړیکو ته یې د «ډېر زیات مهم پوځي اتحاد» نوم ورکړ.

**تبصره:**

سږ کال تر حج سم دستي وروسته، د سعودي دولت د احصایو ادارې په ګرافیکي بڼه د ځان ښودنې په پلمه مالومات خپاره کړل، چې څه ډول دغه شاهي نظام نړۍ په غېږ کې نیولې. دوی او د دوی ملاتړي په دې ډېر ویاړي چې څه ډول کارکوونکو ۲,۴ میلیونه د حج زیارت کوونکو ته خدمتونه چمتو کړي، چې له ډېرو سیمو یې ورغلي وو. که څه هم د ۲۲ میلیونه یمنیانو په اړه هیڅ یادونه نه ده شوې چې انساني مرستو ته اړ دي، یوازې یو میلیون یې له مرګونې کولرا مرض څخه کړېږي او ۵۵ زره یې ټپیان او ۱۰ زره یې وژل شوي.

دا ډول له شرمه ډکې احصاییې له پامه غورځېدلې او یا پټې شوي دي، تر څو د دوی اصلي رول، چې د امریکایي ایتلاف تر چتر لاندې یې د یمن پر وړاندې لري، څرګند نه شي.

دا د سعودي دولت د لیبرال کېدلو اصلي مفهوم دی، چې په ډېر ویاړ سره یې د ولي عهد محمد بن سلمان له لورې اعلان شوی. د سعودي غوړه‌مالي د امریکایي ګټو لپاره هغه مهال ښه جوته شوه چې محمد بن سلمان په ژوندۍ بڼه په تلویزوني خپرونه کې د ټرمپ له لورې سپک شو، چې دی د ټرمپ له انده له یوه بې وزله او اړ مزدور پرته بل هیڅ هم نه دی.

پر دې سربېره مسلمانان باید له ملګرو ملتونو او نورو لوېدیځ پلوو نړیوالو ملاتړو ادارو څخه له تشو غندنو پرته د بل څه هیله ونه لري. که څه هم دوی د مزدورو رژیمونو ځینې جنایتونه په ډاګه کوي، لکه د سعودي د دولت جنایتونه، خو بل اړخ ته دوی ډېرو نورو جنایتونو ته د خپلو ټاکلو لاسوهنو پر مټ قانوني بڼه ورکوي.
د مسلمانانو نور پوځونه د عدالت په پلوۍ له لاسوهنې ډډه کوي، تر څو د ملکیانو ساتنه وکړي او دا ټول له دې وېرې چې د دوی دا کار د ملګروملتونو د منشور له مخې نامشروع ګڼل کېږي. ملګري ملتونه هر هغه نظامي خوځښت ته له قانوني بڼې ورکولو څخه ډډه کوي، چې د لوېدیځ ښکېلاکګرو بادارانو له ګټو سره په ټکر کې وي.
د ښکېلاک اړوندې ادارې ټولې په ګډه کار کوي، تر څو د نړۍ خلک وغولوي او د ښکېلاک هغو ظالمانه پالسیو ته دوام ورکړي، چې یوازې د لوېدیځ زبر ځواکونو ګټې پکې خوندي وي او لګښت یې هم له مسلمانانو او نورې نړۍ څخه اخلي.
په داسې حال کې چې الله سبحانه تعالی مخکې له مخکې مسلمانانو ته سپارښتنه کړې، چې سره یو ځای شي او یو ځای د ظالمانو او مستبدو حاکمانو پر وړاندې ودرېږي.

**﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِنۢ بَغَتْ إِحْدٰىهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقٰتِلُوا الَّتِى تَبْغِى حَتّٰى تَفِىٓءَ إِلٰىٓ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَآءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوٓا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾**

[الحجرات:۹]

ژباړه: *او که له مومنانو څخه دوې ډلې پخپلو منځو کې په جنګ شي، نو د هغوی تر منځ سوله وکړئ .بیا که له هغوی څخه یوه ډله پر بلې تېری وکړي، نو له تېریکوونکې ډلې سره وجنګېږئ، تر دې پورې چې هغوی د الله سبحانه تعالی دحکم خوا ته راوګرځي. بیا کله چې هغوی را وګرځي، نو په منځ کښې یې په عدل سره سوله وکړئ، او انصاف وکړئ چې الله سبحانه تعالی انصاف کوونکي خوښوي.*

نو پوښتنه داده، لا تر کومه به اسلامي امت همداسې وېشلې وي او په ناچارۍ سره به وحشت تر وحشت وروسته ویني او د ملګرو ملتونو تشو غندونو ته به سر خوځوي، په داسې حال کې چې د خپلو پولو او ملي بیرغونو له امله مو ځانونه فلج کړي دي او د لوېدیځ ښکېلاک د ظلمونو پر وړاندې د بې ګناه قربانیانو د مرستې کولو څخه عاجز پاتې یو؟

**د حزب التحریر ولایه بریتانیا مطبوعاتي استازی**

**یحیی نصبت**

ژباړن: عبدالله لطفي